د منديش پاڼې

جيو افغانيکا

تیوری تحقيق تحليل


اونا اې هتاوی

او سکاټ جې شاپيرو

ژباړه: عنايت‌الرحمان عازم




# د زور واکمني
# او
# د نورمونو نړېدا

# د زور واکمني او د نورمونو نړېدا

## (هلته چې زور واکمن وي حق چوپ وي
## د ځواک کارولو پر ضد د نورمونو پاشل کېدل)

---


لیکوال: اونا اې هتاوی او سکاټ جی شاپیرو

ژباړه: عنایت الرحمان عازم



نشروونکی: د جیوافغانیکا د نړیوالو اړیکو مرکز

نېټه: د ۲۰۲۶ کال د می میاشت

لړۍ: د مندېش پاڼې



اړیکه:
geoafghanica@gmail.com
abilalnajeeb@gmail.com

# د جیوافغانیکا په اړه

جیوافغانیکا د پښتو ژبې انلاین پلېټفارم دی، چې موخه یې په علمي او عملي برخه کې د نړیوالو اړیکو وده ده. موږ غواړو په پښتو کې د نړیوالو اړیکو په برخه کې د پوهې تشه ډکه، د آی آر او افغانستان‌محوره سیمې په اړه تیوری، تحلیلونه او تحقیقونه وړاندې کړو. تاسو جیوافغانیکا په دې آدرس ځارلی شئ (https://geoafghanica.com/)

**زموږ موخه**

● په پښتو ژبه کې د نړیوالو اړیکو د مهمو علمي متنونو ژباړه، چې د آی آر اساسات، تېوری، مېتودونه او مفاهیم بیانوي.

● د آی آر پښتو کولو ترڅنګ، د سیمې او نړیوالو قضایاوو په تړاو، د نړۍ د یو شمېر مفکرینو لیکنې او تحلیلونه ژباړل؛

● د راتلونکو ځوانانو یو داسې ټولی روزل، چې نه یوازې دا چې په نړیوالو ژبو د افغانانو لیدلوری نړیوالو ته وړاندې کړي، بلکې له دولتي نرېټیف (بیانیې) هم کلک ملاتړ وکړي. دغه راز، د اوسنیو ځوانانو ترمنځ پر یو داسې پلېټ‌فارم هم بدلېدل چې په سیمه کې د افغانستان ستونزې او ګټه بایلات بحث کړي. د سیمې د روانو لوبو او سیالیو د تحلیلولو ترڅنګ پر افغانستان د دې ټولو اغېزې هم وشني.

# اونا اې هېتاوی



اونا اې. هېتاوې (Oona A. Hathaway) د ييل پوهنتون د حقوقو په ښوونځي کې د حقوقو پروفيسوره، د کارنېګي د نړيوالې سولې بنسټ څېړونکې، او د امريکا د نړيوال قانون د ټولنې منتخبه رئيسه ده.

د آغلې هېتاوې څېړنې پر نړيوال قانون، د جګړې او سولې پر حقوقي نظم، ملي امنيت، بشري حقونو او د دولتونو ترمنځ د زور کارونې پر قانوني محدوديتونو تمرکز کوي.

آغلې هېتاوې له سکاټ جې. شاپيرو سره ګډ کتاب The Internationalists: How a Radical Plan to Outlaw War Remade the World ليکلی دی، چې په نړيوال قانون کې د جګړې د غيرقانوني کېدو او د معاصر نړيوال نظم د بدلون په اړه بحث کوي.

# سکاټ جی شاپیرو



سکاټ جی شاپیرو (Scott J. Shapiro) د ییل پوهنتون د حقوقو په ښوونځي کې د حقوقو پروفیسور او په همدې پوهنتون کې د فلسفې پروفیسور دی.

د ښاغلي شاپیرو علمي کار د قانون پر فلسفې، حقوقي تیورۍ، نړیوال قانون، سایبیري امنیت او د حقوقي نظامونو د مشروعیت پر بنسټیزو پوښتنو راڅرخیږي.

د نوموړي له مشهورو کتابونو څخه Legality، The Internationalists، چې له اونا هېتوې سره یې ګډ لیکلی، او Fancy Bear Goes Phishing: The Dark History of the Information Age, in Five Extraordinary Hacks دي. هغه د The Oxford Handbook of Jurisprudence and Philosophy of Law ایډیټر هم دی.

# عنایت الرحمان عازم



عنايت الرحمن عازم له خاتم النبين پوهنتون څخه حقوق لوستي او له تېرې يوې لسيزې راهيسې يې په بېلابېلو نړيوالو ادارو کې دندې ترسره کړي دي.

ښاغلی عازم په سياسي رياليزم، مصنوعي ځيرکتيا، اقتصادي نښلون او ژباړه کې لېوالتيا لري او له جيوافغانيکا سره د نړيوالو اړيکو د متنونو د ژباړې په برخه کې همکار دی.

# هلته چې زور واکمن وي حق چوپ وي
# د ځواک کارولو پر ضد د نورمونو پاشل کېدل

**لیکوالان: اونا اې هتاوی او سکاټ جی شاپیرو**
**ژباړه: عنایت الرحمان عازم**

د خپلې دویمې کارې دورې د پیل په لومړیو میاشتو کې، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ګرینلنډ او پاناما کانال د نیولو لپاره له پوځي ځواک څخه د کار اخیستلو ګواښ وکړ او همدارنګه یې دا وړاندیز وکړ چې متحده ایالات کولی شي د دوه میلیونو فلسطینیانو له شړلو وروسته، د غزې ملکیت ترلاسه کړي. ده له اوکراین څخه هم غوښتي چې د اوربند په بدل کې خپله خاوره روسیې ته وسپاري. ښايي دا کړنې او څرګندونې د ټرمپ د هغو عادي پراخو او مبالغه امیزه لاپو شاپو غوندې ښکاره شي، خو په حقیقت کې دا ټولې د نړیوالو حقوقو پر یوه پخواني اصل باندې د یو برید برخه ده. هغه اصل چې هیوادونه د شخړو د حل لپاره د نورو هیوادونو پر وړاندې د پوځي ځواک له کارولو یا ګواښلو څخه منع کوي.

تر شلمې پېړۍ وړاندې حقوق پوهانو نه یوازې په دې باور درلود چې هېوادونه کولی شي د نورو د ځمکې او سرچینو د نیولو لپاره جګړه وکړي، بلکې په ځینو حالاتو کې یې دا کار اړین هم باله. جګړه قانوني ګڼل کېده او د ملي حقونو د ترلاسه کولو او د هېوادونو ترمنځ د شخړو د حل اصلي لاره وه. دا هر څه په ۱۹۲۸ کال کې هغه مهال بدل شول کله چې د نړۍ نږدې ټولو هیوادونو د کیلوګ-بریند (Kellogg-Briand) تړون لاسلیک کړ او په دې سلا شول چې یرغلیزې جګړې باید غیرقانوني وي او د خاورې لاندې کول منع شي. په ۱۹۴۵ کال کې د ملګرو ملتونو منشور دا ژمنه یو ځل بیا تایید او پراخه کړه. هغوی د بل هیواد د ځمکنۍ بشپړتیا یا سیاسي خپلواکۍ پر وړاندې د ځواک کارول یا ګواښل منع کړل. کله چې هیوادونه پوه شول چې یوازې د جګړې په منع کولو هوکړه بسنه نه کوي، نو د دې بنسټیز قانون د ټینګښت لپاره یې د چوکاټونو او بنسټونو په جوړولو کې خورا ډېرې هڅې وکړې. دې کار یو داسې نوي حقوقي نظم رامنځته کېدو ته لاره هواره کړه چې د سولې د تضمین لپاره یې د پوځي ځواک پر ځای اقتصادي وسیلو ته لومړیتوب ورکاوه.

د دې کار په نتیجه کې د هېوادونو ترمنځ جګړې خورا کمې شوې. د دویمې نړیوالې جګړې له وروستیو هوکړو څخه تر ۶۵ کلونو پورې د بهرنیو هېوادونو له خوا په کلنۍ ډول د نیول شوې خاورې اندازه له شپږ سلنې (۶٪) څخه هم راښکته شوه. له ۱۹۴۵ کال څخه تر نن ورځې پورې د هېوادونو شمېر درې چنده شو، ځکه ریاستونه نور له دې نه وېرېدل چې د خپلو ځواکمنو ګاونډیانو له خوا به وپرځول شي. همدارنګه، هېوادونو په خپلو کې په ازاده توګه سوداګري پیل کړه او څه ناڅه ډاډه وو چې د دوی راټوله شوې شتمني به د نورو هېوادونو له خوا نه لوټل کېږي. په دې سره نړۍ سوله ییزه او سوکاله شوه.

که څه هم د ځواک د کارولو پر ممانعت باندې باور د ټرمپ تر بیا راتګ پورې یو څه زیانمن شوی و. په ۲۰۰۳ کال کې، متحده ایالاتو پر عراق برید وکړ او دا جګړه یې په دې پلمه توجیه کړه چې عراق ډله ییزې وژونکې وسلې لرې، کومې چې عراق نه لرلې. چین تېره یوه لسیزه د سویلي چین سمندرګي په متنازعه سیمو کې د پوځي اډو پر جوړولو تېره کړه او په ۲۰۲۲ کال کې پر اوکراین د روسیې برید په اروپا کې د دویمې نړیوالې جګړې وروسته تر ټولو لویه ځمکنۍ جګړه پیل کړه. مګر ټرمپ اوس د ځواک کارولو پر ضد د پاتې نورمونو (قواعدو) پر فلجولو بوخت دی. تر دې دمه متحده ایالاتو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د نړیوال حقوقي نظم په ساتلو او دفاع کې خورا مهم رول لوبولی و (که څه هم نیمګړی و). د دغه نظم ټینګښت یوازې د نړیوالو قوانینو پر بشپړې پابندۍ پورې تړلی نه و، بلکې تر ډېره پر هغو شریکو توقعاتو ولاړ و چې هېوادونه به له یو بل سره څنګه چلند کوي. مثلا که یو هېواد په خپله د ملګرو ملتونو د منشور پر ممانعتونو پابند نه هم و، پوهېده چې د دغه نورمونو ماتول به په احتمالي ډول د متحده ایالاتو او د هغوی د متحدینو له خوا د غندنې، بندیزونو او شاید قانوني مداخلې لامل شي.

اوس بیا هغه تمه له منځه تللې ده. ټرمپ نه یوازې دا چې د جګړې او اشغال د ممانعت په برخه کې د متحده ایالاتو دودیز رول پرېښودي، بلکې هغه یو څه نور هم پښنه وړاندې ږدي. ټرمپ غواړي جګړه یا د جګړې ګواښ یو ځل بیا د هغو اصلي لارو په توګه راژوندي کړي چې هېوادونه پرې خپلې شخړې حل کوي او اقتصادي ګټې ترلاسه کوي. نور هېوادونه لا دمخه ورسره د هو په دود سرونه خوځوي. د اسرائیلو لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو د غزې په اړه د ټرمپ د خرګندونو ملاتړ وکړ. همدارنګه پاناما پرېکړه وکړه چې کسان وشړي چې د پاناما اتباع نه دي څو امریکایي ولسمشر خوشحاله کړي او یو داسې تړون یې هم لاسلیک کړ چې متحده ایالاتو ته اجازه ورکوي د پاناما کانال په اوږدو کې پوځي پرسونل ځای پر ځای کړي. د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین ته د اوکراین د ځینو برخو د سپارلو په اړه د ټرمپ د ګواښونو په منځ کې، کییف له واشنګټن سره یو تړون لاسلیک کړ چې په دې سره متحده ایالات د دغه هېواد بډایه معدني سرچینو ته لاسرسی پیدا کولای شي. پورته یادونو ته په کتو که د دې کارونو مخه نه ونیول شي نو د ځواک د کارولو پر ممانعت دغه برید به جیوپولیټیک یو ځل بیا د پوځي ځواک د زور وهلو پراخ میدان ته ور وګرځوي. پایلې به یې ښایي په نړۍ کې د وسلو سیالي، د اشغال لپاره نوې جګړې، د سوداګرۍ کموالی او د نړیوالو ګډو ګواښونو سره د مبارزې لپاره د اړینې همکارۍ پاشل کېدل وي.

**پخه شوې (ریښه لرونکې) جګړه**

تر لومړۍ نړیوالې جګړې وړاندې پېړۍ پېړۍ جګړه یوه قانوني او پېژندل شوې وسیله وه چې هېوادونو خپلې شخړې پرې هوارولې. د جګړې پیل د نړیوال نظم د پاشل کېدو په مانا نه و، بلکې جګړه په خپله یو "نظم" و. د نړیوالو شخړو د قضاوت لپاره د یوې نړیوالې محکمې د نشتوالي له امله، حاکمیت لرونکو دولتونو دا واک درلود چې خپل حقونه هغسې خوندي کړي چې دوی ته به سم ښکاریدل یا یې د جګړې له لارې خوندي کول. هېوادونو پر نورو دولتونو د برید لپاره خپل قانوني استدلال په جنګي اعلامیو (War Manifestos) کې وړاندې کاوه. هر ډول قانوني شکایت د پوځي ځواک کارولو لپاره یو "عادلانه لامل" کېدای شوای.

لکه د ملکیت زیان (مثلاً کښتیو ته زیان رسول)، ناپرداخته پورونه، د تړونونو نقض، د ځان‌دفاع او نور. لکه څنګه چې د اوولسمې پیړۍ هالنډي فیلسوف او حقوق پوه، هوګو ګروټیوس چې ډېری وخت د نړیوالو حقوقو پلار بلل کېږي په خپل اثر (د غنیمت او چور د قانون تفسیر) کې لیکلي: "هغه جګړه عادلانه بلل کېږي چې د یو حق د تامین لپاره ترسره شي."

څرنګه چې جګړه د حقونو د تامین وسیله ګڼل کېده، نړیوالو حقوقو د "نیواک حق" (Right of Conquest) په رسمیت پېژانده. ځمکه او ملکیت د هغو غلطیو د جبران لپاره نیول کېدای شوای کوم چې د جګړې لامل ګڼل کېدل. ګروټیوس دا هم ویل چې د غنیمت په نیولو سره، هېوادونه د جګړې له لارې هغه څه ترلاسه کوي چې په قانوني توګه د دوی حق دی. که څه هم قدرتونو ډېری وخت د هغو شیانو دعوه کوله چې د دوی حق نه و، خو له دې امله چې د جګړو د قانونیوالي د قضاوت لپاره کوم لوړ واک (مرجع) شتون نه درلود نو نړیوال سیستم په عملي توګه هره نیواک عادلانه ګاڼه. مانا دا چې په حقیقت کې "زور د حق معیار و." د بېلګې په توګه، کله چې متحده ایالاتو په ۱۸۴۶ کال کې د مکسیکو پر وړاندې جګړه پیل کړه اصلي قانوني توجیه یې د مکسیکو ناپرداخته پورونه وو. د پوځي برید د درولو په بدل کې متحده ایالاتو مکسیکو مجبوره کړه چې یو تړون ورسره لاسلیک کړي چې له مخې یې ۵۲۵۰۰۰ مربع میله خاوره (چې د اوسنۍ امریکایي سویل لویدیځه برخه ده) د ۱۵ میلیونو ډالرو او د پورونو د بخښلو په بدل کې امریکا ته وسپاري.

دا کومه بې ساري پېښه نه وه. هېوادونو ډېری وخت هغه څه تکرارول چې د زور و ګواښ ډیپلوماسي(Gunboat Diplomacy) په نوم پېژندل کېده؛ یعنې د سیاسي یا اقتصادي غوښتنو د پرمخ وړلو لپاره د پوځي ګواښونو کارول؛ څو کمزوري هېوادونه د غیرعادلانه تړونونو لاسلیک کولو ته اړ کړي. که د یو هېواد لپاره د خپلو حقونو په دفاع کې جګړه کول روا وو، نو د هغو حقونو په دفاع کې د جګړې ګواښ کول هم روا ګڼل کېدل. د ۱۸۵۴ کال په لومړیو کې امریکایي کوموډور ماتیو پیري همدا منطق وکاراوه. نوموړی چې کله د امریکایي جنګي بېړیو له یوې ډلې سره د اډو (اوسني توکیو) خلیج ته ننوت، ادعا یې وکړه چې متحده ایالات له جاپان سره د سوداګرۍ قانوني حق لري او دا یې هم پسې زیاته کړه چې که جاپان د خپلو بندرونو پرانیستلو ته غاړه کېنږدي، هغه به دا کار د پوځي ځواک په کارولو سره تر سره کړي. دې فشار کار ورکړ او د ۱۸۵۴ کال د مارچ په ۳۱مه، دواړو هېوادونو د "کاناګاوا" تړون لاسلیک کړ چې له مخې یې د جاپان دوه بندرونه د امریکایي کښتیو پر مخ پرانیستل شول. ډېرې پیړۍ نړیوالو حقوقو د "نیواک حق" په رسمیت پېژانده.

له دې امله چې جګړه د هېوادونو له خوا د خپلو قانوني حقونو د ترلاسه کولو وسیله وه نو د جګړې پیلول د "قانون پلي کول" ګڼل کېدل، نه یو جرم. کله چې ناپلیون په ۱۸۱۴ کال کې د شپږم ائتلاف جګړه وبایلله نو هغو اروپایي قدرتونو چې ده ته یې ماتې ورکړې وه، نوموړی د یو جنګي مجرم په توګه بندي نه کړ بلکې د ایلبا (Elba) ټاپو ته یې واستاوه چې هلته ورته د امپراتور لقب په حفظ سره په ټاپو باندې د یو حاکم په توګه د واکمنۍ اجازه هم ورکړل شوه. حتی کله چې هغه بېرته اصلي اروپا ته راستون شو او یو ځل بیا د واټرلو (Waterloo) په جګړه کې مات شو، په سویلي اتلانتیک کې د سینټ هیلینا ټاپو ته د هغه تبعید، کومه جزا نه وه بلکې دا یو محتاطانه اقدام و یا که ووایو یو ډول قرنطین و ترڅو په اروپا کې د یوې بلې جګړې د پیلولو مخه ونیول شي.

نه یوازې دا چې هېوادونو د نورو د خاورې د نیولو د "زور و ګواښ ډیپلوماسۍ" د کارولو او د جګړې له امله له جنایي تعقیب څخه د خوندیتوب (Immunity) حق درلود، بلکې هغوی د جګړې د غاړو (متخاصمینو) په وړاندې د بې‌طرفۍ د سختو دندو په مراعاتولو هم مکلف وو. بې‌طرفه هېوادونو نشوای کولی پر جنګېدونکو غاړو باندې بندیزونه ولګوي. که هغوی دا کار کړی وای نو دا به د خپلو قانوني حقونو د ترلاسه کولو لپاره د متخاصمو غاړو په هڅو کې مداخله ګڼل کېده. که کوم هېواد د بې‌طرفۍ دا دنده نقض کوله، نو دا کار د هغه پر وړاندې د جګړې لپاره یو عادلانه لامل ګرځېدای شو. یعنی نیواک قانوني وه مګر پر جنګېدونکو غاړو باندې د اقتصادي بندیزونو لګول غیرقانوني وو.

د دغه حقوقي نظم تر سیوري لاندې چې تر شلمې پېړۍ پورې یې دوام درلود، ځواکمنو هېوادونو د خپلو ادعاوو د پلي کولو لپاره په ازاده توګه جګړې ته لاس اچاوه او کمزوري هېوادونه مجبور وو چې یا تسلیم شي او یا هم د بشپړې تباهۍ خطر ومني چې په پایله کې یې د جګړو یوه دوامداره لړۍ رامنځته کړې وه. د تیري (اشغال) د ممانعت د نشتوالي له امله، ملي پولو په منظم ډول د تاوتریخوالي له لارې بدلون موند. امپراتورۍ د ځواک له لارې پراخېدې او نړیوالې نابرابرۍ لا پسې ژورېدې. سوداګریزې لارې به پرانیستل شوې او بیا به د توپونو په زور کنټرولېدې. استعمار شوې سیمې به د یوې دعوې د غرامت په څېر ګټل کېدې یا بایلل کېدې. د نړۍ اقتصاد د جګړې د دغه پرله پسې ګواښ له امله تل له ودې پاتې و.

## د لومړۍ نړیوالې جګړې اغیزې او د جګړې د منع کولو هڅې

خو لومړۍ نړیوالې جګړې، د جګړې ډګر ته ویجاړونکې نوې ټیکنالوژۍ راوړې او تباهي یې د تیرو جګړو په پرتله خورا زیاته وه. له ۲۰ څخه زیاتو هیوادونو په دې جګړه کې برخه واخیسته او اټکل دی چې ۲۰ ملیونه خلک پکې ووژل شول. نړدې نیمايي یې ملکي وګړي وو. کله چې وژنه کمه شوه نو د داسې ناورین د بیا تکرار د مخنیوي لپاره د یوې لارې موندلو په موخه یوه ناهیلې لټون پیل شو. د ملتونو ټولنې (League of Nations)، چې په ۱۹۲۰ کال کې د ډله ییز امنیت له لارې د سولې ساتلو لپاره تاسیس شوې وه، یوه طرحه وړاندې کړه مګر د متحده ایالاتو سنا، چې بېرته د اروپا په جګړو کې د ښکېل کېدو په اړه اندېښمنه وه د متحده ایالاتو د غړیتوب مخه ونیوله او دې کار د نړیوال سازمان اجراییوي ځواک کمزوری کړ.

نږدې په ورته وخت کې یو نوی او پیاوړی نظر راپیدا شو او هغه نظر دا و چې جګړه په بشپړ ډول غیرقانوني اعلان شي. د ۱۹۲۷ کال په وروستیو کې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر فرانک کیلوګ د فرانسې لومړي وزیر اریسټیډ بریند ته د یوې نړیوالې معاهدې وړاندیز وکړ چې دا مفهوم رسمي کړي. په لږ تر لږه یو کال کې د ۱۹۲۸ کال د کیلوګ-بریند تړون چې په رسمي ډول یې سرلیک "د ملي پالیسۍ د یوې وسیلې په توګه د جګړې د پرېښودلو عمومي تړون" و ۵۸ لاسلیک کونکي وموندل چې په هغه وخت کې یې د نړۍ د هیوادونو لویه برخه تشکیلوه. د دې اصل په رامنځته کولو سره چې تیري ګره جګړه غیرقانوني ده موافقو اړخونو موافقه وکړه چې "د نړیوالو شخړو د حل لپاره جګړې ته د مراجعې غندنه کوي او په خپل منځي اړیکو کې یې د ملي پالیسۍ د یوې وسیلې په توګه پرېږدي" دوی همدا وړ ژمنه وکړه چې ترمنځ شخړې به په سولیزه بڼه حلوي.

دا چې یاد تړون د دویمې نړیوالې جګړې په مخنیوي کې پاتې راغی نو په پراخه کچه د یو خوشي او بې اغیزې کار په توګه پرې ملنډې ووهل شوې. مګر په حقیقت کې یاد تړون یو داسې بهیر پیل کړ چې د عصري نړیوال قانوني نظم د رامنځته کیدو لامل شو. دا چې د یاد د تړون لیکوالان د خپلو ټولو هیلو سره سره د هغه څه په ارزښت پوه نه شول چې دوی ترسره کړي وو... کله چې جګړه غیرقانوني اعلان شوه، نو د نړیوال قانون نړدې هر اړخ باید له سره تصور شوی وای. هغه وخت چې جاپان په ۱۹۳۱ کال کې پر منچوریا برید وکړ د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر هینري سټیمسن یو کال وخت واخیست ترڅو د تړون د اصولو سره سم ځواب چمتو کړي. سټیمسن بیا پریکړه وکړه چې متحده ایالات به پر هغه ځمکه چې جاپان په غیرقانوني ډول نیولې وه د جاپان حق په رسمیت ونه پیژني او د ملتونو ټولنې غړو هم ډیر ژر ورته عمل وکړ. د نه پیژندنې دا نوی اصل چې اوس د سټیمسن دوکتورین په نوم پیژندل کیږي یو مهم بدلون و. نیواک چې یو وخت قانوني عمل و، نور به په رسمیت نه پیژندل کېدل او که جاپان چین مجبور هم کړي چې د غیرقانوني نیول شوې ځمکې د ورکولو تړون لاسلیک کړي نو دا هوکړه به قانوني نه ګڼل کېده . مانا دا چې د ګڼ بوټ ډیپلماسي پای ومونډ.

## جګړې قانوني منع کول او د هغې تاریخي پایلې

دا چې د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د جګړې د بشپړ غیرقانوني اعلانولو پیاوړې نظریه وړاندې شوه. بیا هم جرمني او جاپان چې دواړه د کیلوګ-برینډ تړون غړي وو د دویمې نړیوالې جګړې په پیلولو سره له دغه تړون څخه سرغړونه وکړه او په پای کې له خپلو پایلو سره مخ شول. هغوی ټولې هغه سیمې له لاسه ورکړې چې په زور یې نیولې وې او مشران یې د جنګي جرمونو په محکمو کې محاکمه شول. د نورمبرګ په محکمو کې د تورنامې په لومړۍ ماده کې راغلي وو چې "هغه یرغلیزه جګړه چې د نازي سازشګرانو لخوا چمتو شوې وه... د ۱۹۲۸ کال د کیلوګ-برینډ تړون له شرایطو څخه سرغړونه وه او له مخکې پلان شوې وه"

د دې تړون اصولو د نړیوالو قوانینو نور اړخونه هم له سره تعریف کړل. د متحده ایالاتو لوی څارنوال رابرټ جکسن د ۱۹۴۱ کال د پور او اجارې قانون (Lend-Lease Act) دفاع وکړه. هغه قانون چې متحده ایالاتو ته یې اجازه ورکوله چې له نازي جرمني سره جنګیدونکو هیوادونو ته د جګړې له رسمي اعلان پرته وسلې ورکړي. هغه یادونه وکړه چې د کیلوګ-برینډ تړون د بې طرفۍ تنظیم کونکي قوانین بدل کړي دي. جکسن ویل، د تړون لاسلیک کونکو موافقه کړې وه چې "د پالیسۍ د یوې وسیلې په توګه جګړه پریږدي"، نو له دې امله هغه دولت چې د خپلو مکلفیتونو په سرغړونې سره جګړې ته تللی وي، له نورو دولتونو څخه د مساوي چلند د ترلاسه کولو حق نلري. نور نو بې طرفي د دې غوښتنه نه کوله چې دولتونه د تیري په وړاندې په بشپړ ډول بې طرفه پاتې شي.

په بل عبارت، نورمونه په ۱۹۲۸ کال کې په بدلیدو پیل وکړ. مګر د نړۍ مشران وروسته پوه شول چې یوازې ایډیالونه (ارمانونه) کافي ندي. هغوی نوي قانوني مقرراتو او بنسټونو ته اړتیا درلوده ترڅو هغو ایډیالونو ته اجرایيوي ځواک ورکړي. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، ګټونکو هیوادونو ملګري ملتونه (United Nations) تاسیس کړل ترڅو هغه انقلاب ته قانوني بڼه ورکړي چې د کیلوګ-برینډ تړون پیل کړی و.

د ملګرو ملتونو په منشور کې دولتونه د هر هیواد د ځمکنۍ بشپړتیا یا سیاسي خپلواکۍ په وړاندې د زور له ګواښ یا کارولو څخه منع شوي دي. هغه تړونونه چې تر فشار لاندې لاسلیک شوي وو په رسمي ډول باطل شول. بې طرفۍ نور بې طرفه پاتې کېدو ته اړتیا نه درلوده او هغه مشران چې د جګړې پرغلیزې کړنې یې ترسره کولې په جنایي ډول مسؤل ګڼل کیدل.

دا بدلون چې مشري یې متحده ایالاتو کوله د نړۍ په تاریخ کې یو له خورا ژورو قانوني تحولاتو څخه و. په هغو نږدې اتو لسیزو کې چې د ملګرو ملتونو منشور نافذ شوی، د هیوادونو ترمنځ د جګړو او ځمکنۍ سوبې ډولونه چې د پېړیو راهیسې یې ملي سرحدونه جوړ کړي او بدل کړي وو، کم شول. لویو قدرتونو له ۱۹۴۵ کال راهیسې په ښکاره توګه د یو بل په وړاندې جګړه نه ده کړې او د ملګرو ملتونو هیڅ غړی هیواد د یرغل په پایله کې د تل لپاره له منځه نه دی تللی. البته جګړې له منځه نه دي تللي، خو کمې شوي خامخا دي. له دویمې نړیوالې جګړې څخه په مخکنۍ پیړۍ کې د ځمکو نیولو له ۱۵۰ څخه ډیرې بریالۍ پېښې لیدل شوې وې؛ خو په وروستیو لسیزو کې دا شمیر له لسو څخه کم دی.

## د نړیوال قانون د نوي نظم اغیزې او د ځواک کارولو پایلې

ځیني شنونکي د جګړې وروسته سوله د هستوي مخنیوي (nuclear deterrence) ځینې یې د ډیموکراسۍ خپریدو او نور یې د نړیوالې سوداګرۍ ودې ته منسوبوي. مګر دا تفسیرونه د جګړې د غیرقانوني کولو د پریکړې اهمیت په پام کې نه نیسي. د بېلګې په توګه، کله چې د عراق مشر صدام حسین د ۱۹۹۰ کال په اګست کې پر کویټ برید وکړ او د ملګرو ملتونو له منشور څخه یې سرغړونه وکړه، د ملګرو ملتونو امنیت شورا غوښتنه وکړه چې عراقي ځواکونه سمدستي ووځي. کله چې هغوی داسې ونه کړل، امنیت شورا نورو هیوادونو ته اجازه ورکړه چې د نړیوالې سولې او امنیت د بېرته ټینګښت په پار له ټولو اړینو لارو کار واخلي. متحده ایالاتو بیا د یو نړیوال نظامي ایتلاف مشري وکړه چې عراقي ځواکونه یې له کویټ څخه وویستل. نورو کتونکو هیوادونو زده کړل چې د ځواک د کارولو له منعې څخه سرغړونه به بدې پایلې ولري. قانون د هیوادونو چلند په دې خاطر بدل نه کړ چې هغوی حتماً پریکړه کړې وه چې پیروي یې وکړي، بلکې ځکه یې بدل کړ چې دې کار د نورو هیوادونو په ځانګړي ډول د متحده ایالاتو د غبرګون په اړه د دوی هیلې او تصورات بدل کړل.

## له جګړې څخه بندیزونو او سوداګرۍ ته اوښتل

د ځمکنۍ یرغل (نیواک) ممنوعیت دا هم بدل کړل چې هیوادونه څنګه کولی شي شتمني ترلاسه کړي. مخکې له ممنوعیت څخه د دولتونو وړتیا د شتمنۍ په راټولو کې اکثراً په دې پورې اړه درلوده چې هغوی له نورو هیوادونو څخه څومره ځمکه، سرچینې او امتیازات ترلاسه کولی شي. جګړه او نیواک د سوکالۍ لپاره پېژندل شوې لارې وې. مګر د نیواک د حق په له منځه وړلو سره د جګړې وروسته قانوني نظم هیوادونه مجبور کړل چې د سوله ییزو لارو، په ځانګړي ډول د سوداګرۍ له لارې اقتصادي ودې ته کار وکړي. د سوداګرۍ پراختیا او د جګړې ممنوعیت غاړه غړۍ شول ځکه هیوادونو نور نشو کولی د نیواک له لارې ځانونه بډایه کړي. پرځای یې، دوی باید په اقتصادي همکارۍ، د بازار په سیالۍ او د مالونو او پانګې په آزاد جریان تکیه کړې وای.

هغو لویو قدرتونو چې پخوا یې د خپلې ارادې منلو لپاره د (gunboat diplomacy) څخه کار اخیست اوس یې باید د چک بک یا پولي ډیپلوماسۍ (checkbook diplomacy) څخه کار اخیستی وای. اقتصادي او ډیپلوماتیک بندیزونه د نړیوال قانون د پلي کولو لپاره د جګړې اصلي بدیلونه وګرځېدل. لکه څنګه چې هیوادونه له اقتصادي پلوه یو بل ته ډیر اړم شول، دوی د شړلو (outcasting) یا د نړیوالو همکاریو له ګټو څخه د سرغړونکو هیوادونو د ایستلو ډیرې دقیقې لارې ډیزاین کړې. یو له هغو وسیله څخه سوداګریز بندیزونه و چې د پراخو غیرقانوني کړنو لکه د بشري حقونو سرغړونه، د تروریزم ملاتړ، یا د تیري ګرو جګړو په وړاندې د غبرګون په کلیدي لاره بدله شوه. په ۱۹۴۵ کال کې صادراتو او وارداتو د نړۍ د ناخالص کورني تولید (GDP) یوازې ۱۰ سلنه جوړوله مګر تر ۲۰۲۳ کال پورې دا کچه ۵۸ سلنې ته لوړه شوه. په لسګونو زره نړیوال سازمانونه رامنځته شول او له ۲۵۰,۰۰۰ څخه ډیرې معاهدې لاسلیک شوې ترڅو د دې بې ساري یو بل ته د اړتیا (interdependence) کچه اداره کړي. اوس د نړیوالو همکاریو څخه د ایستلو ګواښ زغمل ورځ تر بلې ستونزمن شوي دي.

**د نړیوال نظم په ساتنه کې د متحده ایالاتو رول او اغیزې**

د نړۍ په ناخالص کورني تولید (GDP) کې د خپلې لویې برخې او د نړۍ د احتیاطي اسعارو په توګه د امریکایي ډالر د حیثیت له برکته، متحده ایالاتو د قوانینو د پلي کولو لپاره بې ساري ځواک ترلاسه کړ. د ډیری هیوادونو لپاره له متحده ایالاتو سره د ښو اړیکو ساتل یو مالي ضرورت و. د جګړې وروسته د قانوني نظم په ساتلو کې د واشنګټن رول له نیمګړتیاوو خالي نه و. په ویتنام کې د متحده ایالاتو جګړه، په ۲۰۰۳ کال کې پر عراق برید او په منځني ختیځ کې د تروریزم ضد څو لسیزې مبارزه، دا ټول د مشروع دفاع پر خورا پراخو او مبالغه امیزو ادعاوو ولاړ وو.

خو متحده ایالاتو د ځمکنۍ یرغل پر بنسټیز ممنوعیت باندې ټېرى ونه کړ او د دغه سیسټم په ساتلو کې یې رغند رول ولوباوه. متحده ایالاتو ژمنه وکړه چې د ناټو (NATO) غړي اروپایي هیوادونه، د ریو تړون (Rio Treaty) امریکایي هیوادونه او همدارنګه استرالیا، جاپان، نیوزیلینډ، فیلیپین، سویلي کوریا او تایلنډ که چیرې له کوم غیرقانوني برید سره مخ کېږي، دوی به یې دفاع کوي. د کویټ پر وړاندې د عراق د تیري په مقابل کې د واشنګټن د مبارزې مشرې دا روښانه کړه چې که یو هیواد د بل هیواد د لاندې کولو هڅه وکړي نو د متحده ایالاتو په مشرۍ به له مقاومت سره مخ شي، حتی که متحده ایالات د غبرګون لپاره کومه لاسلیک شوې ژمنه هم ونلري. دغه نیمګړی خو فعال سیستم لویې شخړې کنټرول کړې او یې کولای شوای چې دا یو بل سره تړلې نړۍ له خپلو ټولو کړکیچونو سره سره، بې نظمه تاوتریخوالي ته ونه لویږي. هیوادونو وکولای شول چې ډیر سوکاله اقتصادونه رامنځته کړي، پرته له دې چې دا ویره ولري چې یو لوی نظامي ځواک به یې فتحه کړي یا به یې د غنیمتونو د ترلاسه کولو لپاره نابرابرو تړونونو ته مجبور کړي.

**قانوني خطر**

ښايي دا هر څه د بدلېدو په درشل کې وي. د متحده ایالاتو پخوانۍ اداري ښایي په دوه‌مخیتوب (hypocrisy) تورنې شي خو د ټرمپ د ادارې لېوالتیا چې د جګړې پر ممنوعیت په بشپړ ډول سترګې پټې کړي خورا خطرناکه ده.

دا انګېرنه چې متحده ایالات کولی شي کاناډا، ګرینلنډ، یا د پاناما کانال په زور ترلاسه کړي. یا دا چې د غزې د ملکیت دعوه وکړي — یوازې یو "ریالیستیک" یا د معاملې پر بنسټ نوې سیاست نه دی؛ بلکې دا هغې پخوانۍ دورې ته ستنېدل دي چې پکې زور د حق معیار و. د ټرمپ ویناوې او کړنې د کیلوګ-برینډ تړون څخه مخکې هغه فکر بیا راژوندی کوي چې پکې د جګړې ګواښ یا د خاورې لاندې کول د شخړو د حل او نورو هیوادونو مجبورولو لپاره یوه قانوني لاره وه.

پر خپلو احتمالي سوبو او فتحو سربېره، داسې ښکاري چې د ټرمپ اداره د نورو هیوادونو له حقه (چې باید ونه نیول شي) دفاع کولو څخه هم لاس اخلي. په اپریل کې له اوکراین سره د نظامي مرستو د بندولو له ګواښ وروسته، ټرمپ د اوکراین ولسمشر ولادیمیر زیلینسکي ته خبرداری ورکړ چې که هغه د متحده ایالاتو په منځګړیتوب د سولې پر داسې پلان غور ونه کړي چې (د فایننشل ټایمز په وینا) ښایي د اوکراین ۲۰ سلنه خاوره روسیې ته ورکړي، نو زیلنسکي به خپل ټول هیواد له لاسه ورکړي. ټرمپ لا دمخه د "ټوپک د ډیپلوماسۍ" (gunboat diplomacy) رواج بېرته راګرځولی او د زور له لارې نور هیوادونه د خپلو شرایطو منلو ته اړ باسي؛ نظامي ګواښونو ورسره مرسته وکړه چې له کاناډا او مکسیکو څخه امتیازات ترلاسه کړي. د ټرمپ د تعرفو (Tariffs) پالیسي هم د جګړې پر ضد نړیوال نظم کمزوری کوي ځکه دا د قانون د پلي کولو د یوې وسیلې په توګه د اقتصادي بندیزونو اغیز راکموي. بندیزونه هغه وخت ډېر اغیزمن وي چې کله کله او د نړیوالو قوانینو د ښکاره سرغړونو په غبرګون کې وکارول شي. پر کاناډا او مکسیکو په خپلسري ډول ۲۵ سلنه تعرفې لګول د واقعي غیرقانوني چلند د مجازاتو لپاره د اقتصادي جزاګانو ارزښت له منځه وړي.

ټرمپ هغه مهال د قانون د پلي کولو پر میکانیزم مستقیم برید وکړ کله چې یې یو اجراییوي فرمان لاسلیک کړ او د جرمونو د نړیوالې محکمې (ICC) قاضیان او وکیلان یې په بندیزونو وګواښل. دې کار د نړیوال قانون د پلي کولو وسیله د هغې د تخریب په وسله بدله کړه. په پراخه کچه د هیوادونو ترمنځ د یو بل د اړتیا (interdependence) له منځه وړلو او د جلاوالي غوښتونکي اقتصادي سیاستونو په تعقیب سره، ټرمپ د نورو هیوادونو دا وړتیا کمه کړه چې سرغړونکي هیوادونه د نړیوالې ټولنې له ګټو محروم کړي. په داسې حال کې، هیوادونو ته له دې پرته بله لاره نه پاتې کیږي چې یا نظامي ځواک وکاروي او یا سرغړونو ته بې غبرګونه پاتې شي.
د ټرمپ بېلابېلې ویناوې او د پالیسیو بدلونونه ښایي ګډوډ ښکاره شي، خو دا ټول د جګړې وروسته د نړیوال قانوني نظم د پاشلو د یوې پراخې هڅې برخې دي. دا برید ځکه ډېر خطرناک دی چې د هغه هیواد لخوا ترسره کیږي چې دا سیستم یې پخپله جوړ کړی او (که څه هم په نیمګړي ډول وي) ساتلی یې دی. ښایي ټرمپ خپل ټول ګواښونه عملي نه کړي؛ ښایي ځینې یې د محکمو یا کورني سیاسي مخالفت له امله ودرول شي او نور مشران ښایي سمدستي د هغه تقلید ونه کړي. مګر یوازې د هغه ګواښونه هم د چلند، زغم او پایلو په اړه هغه انګېرنې زیانمنوي چې د خاورې د لاندې کولو ممنوعیت یې پر پښو درولی دی.

دا انګېرنې اود دا باور چې ډېری هیوادونه به ډېر وخت داسې چلند کوي چې ګواکې قوانین ارزښت لري — کمزورو هیوادونو ته اجازه ورکوي چې اوږدمهاله پلانونه جوړ کړي، پانګوالو ته جرئت ورکوي چې له پولو هاخوا پانګونه وکړي او حکومتونه ته وړتیا ورکړي چې د قانون د سرغړونو په وړاندې په ګډه غبرګون وښيي.

که د نړۍ ترټولو ځواکمن هیواد وکولی شي د کلونو راهیسې منل شوي هیلې په بې پروایۍ سره له پامه وغورځوي، نور هیوادونه به هم د ورته کار کولو جرئت پیدا کړي او کله چې هیوادونه نور له یو بل څخه د قوانینو د مراعاتولو هیله ونلري، نو هغه سیستم چې پر دغه هیلې ولاړ دی، به کرار کرار راونړېږي او بلاخره به له منځه لاړ شي.

**د جګړې حق**

که چیرې د زور کارولو پر ضد ممنوعیت له منځه لاړ شي، نو پوتین، ټرمپ او د چین ولسمشر شي جین پینګ شاید په اسانۍ سره موافقه وکړي چې نړۍ په خپلو منځونو کې د "نفوذ په حوزو" وویشي. په هغه صورت کې به د دوی هیوادونه ازاد وي چې په خپلو اړوندو حوزو کې نور هیوادونه وډاروي او د ساتنې په بدل کې له کمزورو هیوادونو څخه امتیازات ترلاسه کړي. شاید داسې نړۍ به د لنډ وخت لپاره نسبتاً ارامه وي، خو کمه ازادي به ولري او ډېر احتمال شته چې هغه پرله پسې جګړې بیا پیل شي چې یو وخت د جګړې ممنوعیت له منځه وړې وې. بیا به نو نړۍ د توسیدیدس (Thucydides) د هغو مشهورو الفاظو مصداق وګرځي چې ویلي یې و: "زورور هغه څه کوي چې وس یې رسي او کمزوري هغه څه زغمي چې پرې فرض دي."

بله احتمال هم شته، خو دا زړورتیا او چټک اقدام ته اړتیا لري. په ۲۰۲۲ کال کې ۱۴۲ هیوادونو له متحده ایالاتو سره یوځای د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د هغه پریکړه لیک ملاتړ وکړ چې د اوکراین د خاورې د لاندې کولو لپاره د روسیې هڅه یې غیرقانوني وبلله او ویې غندله. دا نور هیوادونه کولی شي پرته له دې چې پر متحده ایالاتو د اصلي پلي کونکي په توګه تکیه وکړي، د ځمکنیو سوبو (فتحاتو) د منع کولو د تائید لپاره سره متحد شي. داسې نښې شته چې اروپا غواړي هغه تشه ډکه کړي چې متحده ایالاتو پریښې ده. په سپینه ماڼۍ کې د مارچ له هغې ناکامې ناستې وروسته چې ټرمپ او د هغه مرستیال جې ډي وینس پکې زیلینسکي سپک کړ او داسې ښکاره شوه چې ګواکې اوکراین یوازې پرېږدي، اروپا د اوکراین د حاکمیت د حق ملاتړ ته راووتله. د بریتانیا لومړي وزیر کیر سټارمر ژمنه وکړه چې اروپایي هیوادونه به خپل نظامي لګښتونه زیات کړي او د اوکراین د دفاع لپاره به د "رضاکارانو یو ایتلاف" جوړ کړي؛ همدارنګه د اروپا د کمیسیون مشرې اورسولا فون ډیر لاین ژمنه وکړه چې اروپايي ټولنه به د دغه هیواد د ملاتړ لپاره یو پلان وړاندې کړي.

خو اروپا نشي کولی د نړۍ د پولیس په توګه د متحده ایالاتو ځای ونیسي. دا نشي کولی اړین نظامي ځواک، اقتصادي نفوذ او سیاسي یووالی رامنځته کړي. حتی که ویې هم کولی شي دا به د نړۍ لپاره یوه غلطي وي چې په بل کوم واحد لوبغاړي باندې دومره ډېره تکیه وکړي. د زور د کارولو د ممنوعیت د خوندي کولو لپاره هر ډول جدي هڅه باید د هغه سیستم د ستونزو په پیژندلو سره وشي چې دا ممنوعیت یې رامنځته کړی و. کله چې ملګري ملتونه تاسیس شول، پنځو ځواکمنو هیوادونو چین، فرانسه، شوروي اتحاد، بریتانیا او متحده ایالاتو ځان ته په امنیت شورا کې د دایمي غړو په توګه یو ځانګړی مقام ورکړ چې د ملګرو ملتونو د هر ډول اجرایوي اقدام د ویټو کولو حق لري. په دغه نظم کې د متحده ایالاتو خورا برلاسي رول دا معنی درلوده چې کله به واشنګټن قوانین مات کړل — د مثال په توګه کله چې یې په ۲۰۰۳ کال کې پر عراق برید وکړ — هیچا دا وړتیا نه درلوده چې هغوی حساب کتاب ته راکش کړي.

**د نړیوال قانوني نظم بیارغونه او د کوچنیو هیوادونو رول**

دغو نیمګړتیاوو د زور د کارولو د ممنوعیت قانوني نظم په ځانګړې توګه د (global South) هیوادونو له دیده بې اعتباره کړ. دا بې باوري پدې معنی ده چې ځینې هیوادونه ښایي د هغه څه په ارزښت پوه نه شي چې دوی به یې د ټرمپ لخوا د دغه ممنوعیت له پاشلو وروسته له لاسه ورکړي. د جګړې وروسته د قانوني نظم د کمزورتیاوو په عامه توګه منل او د دې نظم د مدافعینو پرله پسې پاتې راتلل، د یو ډیر پیاوړي قانوني نظم د رامنځته کولو په لور لومړی مهم ګام دی. د زور د کارولو د ممنوعیت ساتل د نړیوالو بنسټونو په اړه نوې فکر ته اړتیا لري. د نړیوالې سولې او امنیت د تامین لپاره یو اپډیټ سیستم باید ډیرو او بیلا بیلو هیوادونو ته دا واک ورکړي چې د قانوني نورمونو د ساتلو مسؤلیت شریک کړي، ترڅو دا سیستم ډیر مشروع شي او د هر یو ځانګړي هیواد په کورني سیاست کې د بدلونونو په وړاندې مقاومت وکړای شي.

متوسط او واړه هیوادونه باید د زور د کارولو د ممنوعیت څخه د دفاع لپاره پراخ ایتلافونه جوړ کړي. ډیری شنونکي په دې باور دي چې هغه نسبي سوله چې په تیرو ۸۰ کلونو کې حاکمه وه، د یو ځواکمن هیواد (ضمانت کونکي) له شتون پرته هیڅکله نشوه ساتل کیدی. مګر دا لیدلوری هغه حقیقي ځواک کم ارزوي چې هیوادونه یې په ګډه کار کولو سره ترلاسه کولی شي. اروپایي ټولنه یې یوه بیلګه ده: د هغې ۲۷ غړي هیوادونه په یوازې ځان ډیر لوی ځواک نلري، مګر په ګډه دوی یو ستر ځواک دی.

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله چیرې چې ټول ۱۹۳ غړي هیوادونه مساوي رایه لري، باید مخکښ رول ولوبوي. دا اداره اوسمهال د امنیت شورا په څیر اجرایوي ځواک نلري، مګر د یوې داسې ارګان په توګه چې د نړیوالې سولې او امنیت ساتلو مسؤلیت لري، کولی شي د منشور د ځواک کارولو د ممنوعیت پلي کولو لپاره ډیر واک ترلاسه کړي. یو وروستی اصلاحات چې د "ویټو نوښت" (veto initiative) په نوم پیژندل کیږي، ښیې چې دا اسامبله څنګه کولی شي ډیر څه ترسره کړي. دا کړنلاره چې پر اوکراین د روسیې له برید وروسته رامنځته شوه، په امنیت شورا کې هر ډول ویټو شوی پریکړه لیک د بحث لپاره عمومي اسامبلې ته راجع کوي.

د نړیوالو قوانینو د پلي کولو لپاره نوي میکانیزمونه

د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې پریکړه لیکونو چې د دغه نوي حکم لاندې تصویب شول، هیوادونو ته دا قانوني ملاتړ ورکړ ترڅو د روسیې په وړاندې بندیزونه همغږي کړي او له اوکراین سره د وسلو او مالي مرستو په برخه کې همکاري وکړي. همدارنګه، د دغو پریکړه لیکونو په پایله کې د زیانونو یو نړیوال ثبت (International Register of Damages) رامنځته شو ترڅو د جګړې وروسته د غرامت ورکولو لپاره لاره هواره شي.

هیوادونه باید د خپلو ګډو موخو د ترلاسه کولو لپاره په سیمه ییزو یا د موضوع پر بنسټ جوړو شویو ایتلافونو کې هم کار وکړي. د دا ډول ایتلافونو جوړېدل لا دمخه پیل شوي دي. د مثال په توګه، د اروپا شورا اعلان کړی چې دوی یوه محکمه جوړوي ترڅو د پوتین او نورو روسي مشرانو پر ضد شواهد راټول کړي او په پای کې هغوی په اوکراین کې د تیري د جرم له امله محاکمه کړي.

همدارنګه، د "هاګ ګروپ" غړي چې بولیویا، کولمبیا، کیوبا، هانډوراس، مالیزیا، نامیبیا، سینیګال او سویلي افریقا پکې شامل دي، هڅه کوي چې په غزه کې د جګړې په اړه د نړیوالې محکمې (ICJ) او د جرمونو د نړیوالې محکمې (ICC) پریکړې پلي کړي. د تېر کال په مې میاشت کې، د افریقایي ټولنې او اروپایي ټولنې د بهرنیو چارو وزیرانو ژمنه وکړه چې د سولې، امنیت او اقتصادي مسایلو په برخه کې خپله ملګرتیا پیاوړې کړي، چې دا د سولې د داسې یو ایتلاف لپاره پیل کیدی شي چې پر متحده ایالاتو تکیه نه کوي.

په رسمي ډول، اوس مهال یوازې د ملګرو ملتونو امنیت شورا هغه یوازینی اداره ده چې هیوادونو ته د قانون پلي کولو په موخه د جګړې اجازه ورکولی شي. مګر هیڅ شی د دې مخه نشي نیولی چې هیوادونه یوه د ایستلو یا شړلو شورا (Outcasting Council) رامنځته کړي؛ داسې یو سازمان چې د هغو هیوادونو په وړاندې د ګډو بندیزونو اجازه ورکړي چې د ځواک د کارولو له منعې یا نورو مهمو نړیوالو قوانینو څخه سرغړونه کوي. بندیزونه تل د غیرقانوني چلند په مخنیوي کې بریالي نه دي، چې یو لامل یې د هغو په همغږۍ کې ځنډ او د وړاندوینې نشتوالی دی. مګر که هیوادونه په دوامداره توګه د ځانګړو غیرقانوني کړنو په وړاندې د اتوماتیک او همغږو غبرګونونو لپاره په ګډه کار وکړي، دوی کولی شي دا وسیله خورا اغېزمنه کړي.
تر هر څه وړاندې، د ځواک د کارولو د ممنوعیت خوندي کول په دې پورې اړه لري چې هیوادونه درک کړي چې دې کار څومره ګټې رسولې، رامنځته کول یې څومره ستونزمن وو، او که له منځه لاړ شي څومره ګډوډي به رامنځته شي؟ که هیوادونه د متحده ایالاتو لخوا د خپل پلي کونکي رول پریښودلو ته د داسې نویو بنسټونو په جوړولو ځواب ووایی چې د واشنګټن ځای ونیسي، دا به یو پیاوړی پیغام وي. امریکایي مشران ښایي دعوه وکړي چې "زور حق دی"، مګر دوی به په اقلیت کې وي او دا موقف به هغوی ګوښه کړي. د مثال په توګه، که واشنګټن د پاناما کانال د نیولو ګواښ عملي کړي، هیوادونه کولی شي د اقتصادي بندیزونو او ډیپلوماتیکو جزاګانو له لارې متحده ایالات ګوښه کړي یا حتی په خپلو خاورو کې د متحده ایالاتو اډو ته د اجازې ورکولو پریکړه بېرته واخلي. دا ښودل چې نور هیوادونه چمتو او وړ دي چې په ګډه پر متحده ایالاتو د قانون ماتولو په صورت کې لګښتونه تحمیل کړي، د هغو ژورو زیانونو په مخنیوي کې مرسته کوي چې د ټرمپ ادارې اړولي دي — او دا به تایید کړي چې ډېر هیوادونه کولی شي د نړیوال قانون په جوړولو او پلي کولو کې یو مساوي رول ولوبوي.

## د نړیوال نظم ساتنه او راتلونکي ننګونې

د ټرمپ ظهور د زور کارولو د ممنوعیت په وړاندې یوازینی ګواښ نه دی؛ چین او روسیه هم هڅه کوي چې نړیوال نورمونه د خپلو ګټو په ګټه بدل کړي. مګر که چیرې ډېر هیوادونه د نړیوال سیستم د بنسټیزو اصولو د پلي کولو لپاره ډېله ییز مسؤلیت ومني، نو دا هیوادونه (چین او روسیه) به هم اړ وي چې دې قدم په حساب واخلي. دا لا تر اوسه روښانه نه ده چې ایا د فرانسې، جرمني او بریتانیا په څیر هیوادونه چې د نړیوالو تعاملاتو د شرایطو ټاکلو عادت لري به دې ته چمتو وي چې دا ځواک له نورو سره شریک کړي. همدارنګه، دا هم څرګنده نه ده چې ایا هغه هیوادونه چې د اوږدې مودې راهیسې له نړیوالو پریکړو څخه ایستل شوي، وکولی شي په داسې یو نړیوال قانوني نظم باور وکړي چې بنسټ یې د زور کارولو پر ممنوعیت ولاړ دی. مګر د داسې یو نظم ملاتړ خورا حیاتي ارزښت لري.

د چین، روسیې او متحده ایالاتو یو د بل په وړاندې کارول شایې د مخ پر ودې هیوادونو لپاره لندمهاله ګټې ولري، خو په اوږد مهال کې دا هیوادونه د لویو قدرتونو د سیالیو د ښکار کېدو له خطر سره مخ دي او د خپل راتلونکي په ټاکلو کې به لږ واک ولري.

\هغه سیستم چې نړدې اته لسیزې یې نسبي سوله او سوکالي ساتلې، په خپله نه پاتې کیږي؛ بلکې باید په کلکه یې دفاع وشي. د دویمې نړیوالې جګړې له پیل وروسته د متحده ایالاتو پالیسي جوړونکو درک کړه چې د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د یو تلپاتې نظم په جوړولو کې پاتې راتلل د راتلونکي ګډوډۍ تخمونه کرلي وو. د تاریخ درس دا دی چې تر هغه وخته انتظار کول چې یو کړکیچ تیر شي او بیا د راتلونکي لپاره پلان جوړول، د ناکامۍ نسخه ده. لکه څنګه چې په ۱۹۴۰ لسیزه کې پالیسي جوړونکو د جګړې له ګډوډۍ څخه د تلپاتې سولې د رامنځته کولو هڅه وکړه، د نن ورځې مشران هم باید د سولې د خوندي کولو لپاره داسې بنسټونه، ایتلافونه او ستراتیژۍ ډیزاین کړي چې اجازه ورنکړي ترمپ د ساعت عقربه بېرته شا ته بوځي.

پای